څېړندوی رحمت الله همت

# له مرکزي آسیا سره د اروپايي ټولنې د اړیکو ارزونه

# Analysis of EU and Central Asia Relations

Researcher Rahmatullah Hemat

## Abstract

After the independence of Central Asian countries, European Union (EU) made relationship with these countries and supported free market economic system instead of communism in this particular geographical area. For the first time, EU appointed special representative to Central Asia and has organized many assistance and supportive programs for Central Asia. Recently, with developing role of China & Russia in the Central Asia, withdrawal of some US troops from Afghanistan and the rise of extremism in the region have grown up the importance of Central Asia to EU.

EU is comparatively less influential in Central Asia than Russia and China and cannot compete with them, so EU members are working to improve education system, human rights situation and work for upholding democratic values in the Central Asia. Moreover; EU developed approach in the framework of 2020 year plan for strengthening and energizing EU-Central Asia relations.

## لنډیز

اروپایي ټولنې د مرکزي آسیا له هېوادونو سره له خپلواکۍ اخیستلو وروسته په ۱۹۹۱ز.کال اړیکې ټینګې کړې او په دغه جغرافیایي سیمه کې یې د کمونستي اقتصادي سیستم پر ځای د آزاد بازار سیستم رامنځته کولو څخه ملاتړ کاوه. په ۲۰۰۵ز.کال کې د لومړي ځل لپاره د مرکزي آسیا لپاره د اروپایي ټولنې ځانګړی استازی وټاکل شو، چې له مرکزي آسیا سره د مرستو کولو پروګرامونه تنظیم کړي. په دې وروستیو کلونو کې په مرکزي آسیا کې د چین او روسیې رول زیاتېدل او له افغانستان څخه د ځینو امریکایي پوځیانو وتل په سیمه کې د افراطیت زیاتېدلو ته په پاملرنې سره د اروپایي ټولنې لپاره د مرکزي آسیا اهمیت هم زیات شوی دی.

اروپایي ټولنه په مرکزي آسیا کې د روسیې او چین په نسبت کم نفوذ لري او نشي کولای سیالي ورسره وکړي، نو د اروپایي ټولنې غړي هېوادونه هڅه کوي په مرکزي آسیا کې د زده کړو د ښه والي او د بشري حقونو د وضعیت د ښه والي او دیموکراتیکو ارزښتونو ملاتړ لپاره کار وکړي او له مرکزي آسیا سره د اروپا نوې تګلاره د ۲۰۲۰ز.کال طرحې په اډانه کې له مرکزي آسیا سره د اروپا د اړیکو پیاوړتیا (Strengthening and Energizing EU-Central Asia Relations) په موخه جوړه شوه.

## سریزه

مرکزي آسیا د ستراتیژیک موقیعت په لرلو او د ختیځ – لویدیځ او شمال او جنوب ترمنځ د پله او نښلونکې سیمې په توګه په ۱۹ میلادي پیړۍ کې د دوه لویو ځواکونو روسیې او بریتانیا د سیالۍ سیمه وګرځېدله. روسیې وکولای شول په مرکزي آسیا کې خپل سوسیالیستي افکارو ته وده ورکړي، دغه سیمه د شوروي اتحاد برخه وګرځوي او روسي ژبه، تعلیمي سیستم او اقتصادي سیستم ته کمونستي بڼه ورکړي، خو د شوروي اتحاد پاشل کېدو وروسته نږدې درې لسیزې د مرکزي آسیا جمهوریتونو له خپلواکه کېدلو سره په خپلو اقتصادي او بهرنیو

سیاستونو کې بدلون راوستی دی. اوسمهال د سیمې دوه مهم ځواکونه روسیه او چین او همدارنګه اروپايي ټولنه هغه نړیوال لوبغاړي دي، چې د مرکزي آسیا پر اقتصادي او سیاسي مسایلو اغېز لرونکی رول لري.

له سړې جګړې وروسته اروپايي ټولنې په نړیواله کچه اغېزمنې او فعاله هڅې پیل کړې او ویې کولای شول چې د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو ترمنځ د داخلي کړنو او نړیوالو اړیکو لپاره یو لړ اصول او د لوبې قواعد وټاکي. اروپايي ټولنې سیاست په ځینو اصولو، لکه: سوله، آزادي، دموکراسي، د قانون حاکمیت او د بشري حقونو په رعایت کولو باندې ولاړ دی.

د مرکزي آسیا د جمهوریتونو له خپلواکه کېدلو وروسته نږدې درې لسیزې د دولتي سیستم رامنځته کولو، له اقتصادي نړیوالو سازمانونو سره مشارکت، د فردي مالکیت او حقونو څخه ملاتړ، پولي نظام، بانکي او مالي رژیم د غربي بنسټونو تر اغېز لاندې راغلی دی، چې د دغه لیبرالستي اقتصادي بهیر وده او مروج کول د غربي هېوادونو په ځانګړې توګه د اروپايي ټولنې په مرسته او همکارۍ سره ترسره شوی دی.

په دې مقاله کې د مرکزي آسیا او اروپايي ټولنې اړیکو ته اشاره شوې ده، دا چې اروپايي ټولنه په مرکزي آسیا کې کومې موخې لري؟ او په مرکزي آسیا کې د روسیې او چین کومو کړنو څخه اندېښنه لري؟ په دې مقاله کې هڅه شوې ده چې دغو پوښتنو ته ځواب وویل شي.

**د څېړنې اهمیت او مبرمیت**

د مرکزي آسیا هېوادونه د افغانستان په ګاونډ کې موقعیت لري، چې د دغو هېوادونو اړیکې د اروپايي ټولنې سره په مستقیم ډول پر دغه سیمه او په غیر مستقیم ډول په افغانستان اغېزې لري، دا چې دغه اغېزې د افغانستان په سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو حالاتو څه ډول دي؟ د همدې لپاره اړینه ده چې د مرکزي آسیا

او اروپايي ټولنې اړيکې وڅېړل شي او دا چې دغه اړيکې په افغانستان اغيزې لري، نو له همدې امله د دغې موضوع څېړل مهم دي.

**د څېړنې موخه**

د مرکزي آسيا هېوادونه د افغانستان په ګاونډ کې پراته دي، له مرکزي آسيا سره د اروپايي ټولنې اړيکې په مستقيم ډول پر دغه سيمه او غير مستقيمه توګه پر افغانستان باندې اغيزې لري، نو اړينه ده، چې د مرکزي آسيا او اروپايي ټولنې ترمنځ دا اړيکې وڅېړل شي.

**د څېړنې مېتود**

ددې مقالې په ليکلو کې له تشريحي – تحليلي مېتود څخه ګټه اخيستل شوې ده.

## له مرکزي آسيا سره د اروپايي ټولنې سياسي اړيکې

د دوه قطبي نظام له منځه تللو او د ساړه جنګ له پای ته رسېدو سره سم اروپايي ټولنې په نړيوال سياست کې خپل رول څرګند کړ، اروپايي ټولنه چې له بډايو او مؤثره هېوادونو ( آلمان، فرانسه، ايټاليا... ) څخه جوړه ده او له ټوليز بالقوه ځواک څخه برخمنه ده، اوسمهال اروپايي ټولنه د نړۍ له اصلي لوبغاړو څخه ده، چې د امريکا متحده ايالاتو قدرت هم ننګولی شي. (۱)

اروپايي ټولنې په مرکزي آسيا کې د نفوذ د زياتوالي لپاره د قانون حاکميت، بشري حقوق، سوداګري، د کډوالۍ د زيانونو مخنيوي په موخه د پولو پياوړتيا او د ځوانانو د زده کړو په برخه کې پانګونه کړې او په دې وروستيو کلونو کې د بنسټ پالنې زياتېدلو ته په پاملرنې سره يې پر امنيتي حوزه هم پام راټول کړی دی.

اروپايي ټولنې د يو ځواک په توګه د نړۍ بېلا بېلو برخو کې د بشري حقونو او دموکراتيکو ارزښتونو د ترويج په برخه کې هڅې کړې دي او د خپلو استازو له لارې

په مرکزي آسیا کې د بشر حقونو په اړه معلومات راټولوي. په ۲۰۰۵ز.کال کې د لومړي ځل لپاره د مرکزي آسیا لپاره د اروپایي ټولنې ځانګړی استازی وټاکل شو او له دې سره له مرکزي آسیا سره د مرستو کولو پروګرامونه تنظیم شول.

د مرکزي آسیا لپاره د اروپایي ټولنې له خوا دوه تګلارې تصویب شوي دي، چې لومړۍ یې له ۲۰۰۲ز.کال څخه تر ۲۰۰٦ز.کال پورې او دوهمه تګلاره یې له ۲۰۰۷ز.کال څخه تر ۲۰۱۳ز.کال پورې د اجرا لپاره ترسره شوه. د لومړۍ تګلارې له مخې اروپایي ټولنې غوښتل په مرکزي آسیا کې د فقر کمولو، امنیت، ثبات او د اقتصادي پراختیا په برخه کې مرسته وکړي او د بشري حقونو تضمین، د دموکراسۍ پیاوړتیا او د ښې حکومتولۍ ارتقا یې اصلي موخه وه. په دوهمه تګلاره کې له ۲۰۰۷ ز.کال څخه تر ۲۰۱۳ز.کال پورې د دموکراسۍ پلي کولو برخه کې جدي پاملرنه شوې وه. (۲)

په ۲۰۱٦ز.کال کې د روڼتیا نړیوال سازمان له خوا د فساد په برخه کې د ۱۷٦هېوادونو نوملړ خپور شو، چې ازبکستان ۱۵٦رتبه، ترکمنستان ۱۵۴ رتبه، تاجکستان ۱۵۱ رتبه، قرغزستان ۱۳٦رتبه او قزاقستان ۱۳۱ رتبه کې قرار درلود. (۳)

په مرکزي آسیا کې د لویدیځ ځینې نادولتي سازمانونه، لکه: د فدرال فني-فزیکي مؤسسه (PTB)، سیدل هانس بنسټ (HSS)، فردریش ابرت بنسټ (FES)، لوړ پوړو کارپوهانو انجمن(SES) او د آلمان ملي پوهنتون انجمن (Dvv) فعالیت لري. اروپایي ټولنه په مرکزي آسیا کې د مدني ټولنو له خوا د سیمینارونو ترسره کولو او د دموکراسۍ او بشري حقونو لپاره مالي مرستو کولو لپاره د AIDHR پروګرام تر لاس لاندې ونیو، همدارنګه په ۲۰۱۵ز.کال د اروپایي ټولنې او قزاقستان

ترمنځ د همکارۍ کچې لوړولو لپاره یو هوکړه لیک لاسلیک شو. قزاقستان په سیمه کې د اروپایي ټولنې کلیدي متحد او تجاري شریک بلل کیږي. (۴)

په مرکزي آسیا کې د دموکراسۍ او بشري حقونو حاکم وضعیت باندې تل د اروپایي ټولنې له خوا انتقاد شوی دی، چې ښه بېلګه یې په ۲۰۰۵ز.کال کې د تاجکستان په اندیجان کې د لاریون کوونکو ځپلو سره د اروپایي ټولنې او د تاجکستان ولسمشر اسلام کریموف ترمنځ اړیکې خرابې شوې او له ازبکستان سره د اروپایي ټولنې، ناټو، د اروپا همکارۍ او امنیت سازمان اړیکې راکمې شوې. (۵)

په تاجکستان کې د مقتدر او روس پلوه ولسمشر شتون له اروپایي ټولنې سره د اړیکو کمېدلو سبب ګرځېدلی، په داسې حال کې چې د تاجکستان اسلامي نهضت چې د تاجکستان له خوا تروریستي ډله اعلان شوې او غړي یې آلمان ته تبعید شوي دي، خو د اروپایي ټولنې له خوا تر اوسه بیرته تاجکستان ته سپارل شوي نه دي، همدا موضوع ددې لامل شوې ده، چې د اسلامي نهضت غړي او مشران په اروپا کې په کنفرانسونو او غونډو کې د تاجکستان دولت له خوا ددې نهضت غړو په غیرقانوني توګه نیولو او زنداني کولو باندې نقد کوي او اروپایي ټولنه هم د تاجکستان له خوا د دې کارونو ترسره کول د بشري حقونو او ازادیو نقض بولي او له همدې امله پر تاجکستان باندې نړیوال فشارونه ته لاره چاره برابریږي.

ترکمنستان هم د اروپایي ټولنې لپاره د انرژۍ برخه کې د ښه ظرفیت لرلو ته په پام سره مهم هېواد دی، خو ترکمنستان یوازې اقتصادي تګلاره لري او له چین سره ښې اقتصادي اړیکې لري. په قزاقستان کې د بشري حقوقو نقض او دیموکراتیکو بهیرونو کمزوري کول د قزاقستان او اروپایي ټولنې پر اړیکو اغېز درلودلی دی، خو سره له دې، د انرژۍ سرچینو درلودلو او د روسیې، چین او اروپایي ټولنې ترمنځ د اړیکو تعادل ساتلو سره د اروپایي ټولنې او قزاقستان ترمنځ اړیکې ښې دي.

قرغزستان کې د عسګرآقايف له خوا د دموکراسۍ او ليبرال اقتصادي سياست پر مخ وړل د غربي هېوادونو له خوا وستايل شول او قرغزستان يې د «مرکزي آسيا سويس» په نوم يادوه، خو په ۲۰۱۱ز.کال په قرغزستان کې د آمازبيګ آتامبايف ولسمشر کېدو او روسيې او چين ته نږدې کېدو سره يو څه بدلونونه رامنځته شول، چې په۲۰۱۴ز.کال د ماناس اډې بندول او امريکايي عسکرو ايستل، د روسيې او قرغزستان ترمنځ د پراختيا مشترک صندوق جوړول، د روسيې له خوا د ۵۰۰ ميليونو ډالرو پور اخيستل، داورآسيا اقتصادي ټولنه کې د قرغزستان غړيتوب ترلاسه کول هغه موارد وو، چې قرغزستان له لويديځ څخه فاصله واخيستله او روسيې سره نږدې شو. (٦)

د ۲۰۱۴ز.کال وروسته له افغانستان څخه د ناټو ځواکونو وتلو سره مرکزي آسيا د ترهګرو د بريدونو له ګواښونو سره مخامخ دی، چې ورسره په سيمه کې نا امني او د نشه يي توکو قاچاق ته هم لاره چاره برابريږي. اروپايي ټولنه پدې برخه کې هم له مرکزي آسيا هېوادونو په ځانګړې توګه هغه هېوادونه چې له افغانستان سره ګډه پوله لري، د سرحدونو په پياوړتيا پروګرامونو کې خپل ملاتړ کړی او د ۲۰۰۳ز.کال څخه تر ۲۰۱۴ز.کال پورې ۳۳،٦ ميليونه يورو د مرکزي آسيا پولو مديريت لپاره ځانګړې کړي دي. (۷)

د مرکزي آسيا امنيت او ثبات هم د اروپايي ټولنې لپاره مهم دی، بله دا چې ازبکستان، تاجکستان او ترکمنستان له افغانستان سره ګډه پوله لري او د ترهګرو د بريدونو له ګواښونو سره مخامخ دي. همدارنګه مرکزي آسيا د چين او اروپا ترمنځ د پله حيثيت لري. اروپايي ټولنه د مرکزي آسيا له امنيتي مسايلو څخه هم اغېزمنه ده، په مرکزي آسيا کې د القاعده، داعش او نورو افراطي ډلو شتون د اروپايي ټولنې

لپاره یو ګواښ ګڼل کېږي، نو ځکه یې له مرکزي آسیا سره د سرحدي پولو د امنیت د ټینګښت لپاره ۵ میلیونه یورو مرسته وکړه، چې له ۲۰۱۵ز.کال وروسته تر ۳ کلونو لپاره ځانګړې شوې دي.

په مرکزي آسیا کې د بدلونونو رامنځته کېدو د اروپایي ټولنې پام خپل کړ او په ۲۰۱۷ز.کال د جون میاشتې پر ۱۹ نېټه د مرکزي آسیا لپاره د اروپایي ټولنې ستراتیژۍ لپاره سند برابر کړ. د امنیتي موضوعاتو په برخه کې په سوریه او عراق کې د داعش ډلې په جوړښت کې د مرکزي آسیا اوسېدونکو ګډون، د استانبول ترهګرۍ پېښې، سن پترزبورګ او د سویډن استهکلم پېښه کې د مرکزي آسیا کسانو ښکېلتیا او له افغانستان څخه مرکزي آسیا ته د نشه یي توکو قاچاق ددې لامل شول چې مرکزي آسیا ته د اروپایي ټولنې پام زیات شي. (۸)

له مرکزي آسیا سره د اروپا نوې تګلاره د ۲۰۲۰ز.کال طرحې په اډانه کې له مرکزي آسیا سره د اروپا د اړیکو پیاوړتیا (Strengthening and Energizing EU-Central Asia Relations) په موخه جوړه شوه، چې ددې پروګرام مشري د برلین د سیاسي علومو څېړنې اداري رییس کاترین بتګر او د آلمان دویسبرګ اسن پوهنتون پروفیسور مایلک کایدینګ له خوا کېږي. د دغه پروګرام له مخې به اروپایي ټولنه هڅه وکړي، چې د مرکزي آسیا او اروپا ترمنځ اړیکې د جغرافیایي نقشې له مخې ترسیم او تحلیل کړي او په پای کې د همکاریو زیاتېدلو لپاره حللارې وړاندې کړي. د کاترین د وینا له مخې له مرکزي آسیا سره به د اقتصاد، پوهنې او لوړو زده کړو په برخه کې همکاري وکړي. همدارنګه د اروپایي ټولنې په نوملړ کې له ۲۰۰ ډېر سازمانونو او ډلو استازي شتون لري، چې د مدني ټولنې اړوند موضوعاتو، لکه: د بشري حقونو، د پولو او امنیت ساتلو او اقلیمي بدلونونو پورې اړوند دي، کې کار کوي. د ۲۰۲۰ز.کال طرحې له مخې به د مرکزي آسیا او اروپایي ټولنې ترمنځ د

۱۰ کلنو اړيکو څرنګوالی وټاکل شي. د کاترين د وينا له مخې دغه پروژه په مرکزي آسيا کې د چين او روسيې له موخو سره توپير لري، ځکه زموږ موخې د اقتصادي همکاريو، دموکراتيک پرمختګونو او د قانون پر رعايت متمرکزې دي. (۹)

اروپايي ټولنه په داسې حال کې د مرکزي آسيا لپاره د ۲۰۲۰ز.کال لپاره نوې ستراتيژي جوړوي، چې پخپله اروپايي ټولنه هم له بدلونونو سره مخامخ ده او بريتانيا له اروپايي ټولنې څخه بهر شوې ده. اروپايي ټولنه له مرکزي آسيا سره په دريو حوزو کې هر يو سياسي- ټولنيز ( ديموکراسي، بشري حقونه او ليبرال ارزښتونه)، امنيتي- دفاعي( ترهګري، نشه يي توکي او افراطيت) او اقتصادي ( تجارتي اړيکې او د انرژۍ لېږد) برخو کې د اړيکو پياوړي کولو هڅه کوي.

له مرکزي آسيا سره امريکا د ۱+۵ په چوکاټ کې همکاري لري، روسيه د اوراسيا اقتصادي ټولنې او جمعي امنيت تړون سازمان په دوه اړخيزه قراردادونو په اډانه کې د مرکزي آسيا له هېوادونو سره اړيکې لري او چين د يو کمربند او لارې طرحې په چوکاټ کې په فعاله توګه په مرکزي آسيا کې فعاليت او پانګونه کوي. د اروپايي ټولنې اصلي موخه داده چې په مرکزي آسيا کې د روسيې نفوذ کمزوری کړي او له چين سره سيالي وکړي.

## له مرکزي آسيا سره د اروپايي ټولنې اقتصادي اړيکې

تېل، ګاز او انرژي په اوسني وخت کې يوه ستراتيژيکه سرچينه ده چې په سيمه ييزو سياستونو او نړيوالو ستراتيژيو کې مهم اغېز لري. په دې وروستيو کلونو کې طبيعي ګاز د انرژۍ مهمه سرچينه ګرځيدلې ده او د چاپيريالي مسايلو او په نړۍ کې د ګازو زېرمو کمېدلو ته په پام سره د ګازو او تېلو مصرف زيات شوی دی چې د نړيوال تجارت لويه برخه تشکيلوي.

مرکزي آسیا د طبیعي سرچینو په ځانګړې توګه د ګازو او تېلو پراخې زېرمې لري او د اروپایي ټولنې غړي هېوادونه هڅه کوي د روسیې په ګاز پروم شرکت باندې اتکا راکمه کړي. بروکسل د روسیې د ګازو پر وړاندې د خپلې اړتیا کمولو په لټه کې دی او د ګازو د بحران له پیل سره او د اوکراین د پېښو له رامنځته کېدلو سره اروپایي ټولنه د خپلې اړتیا وړ انرژي پیداکولو لپاره هڅه کوي او د مرکزي آسیا سیمه د بډایه انرژي سرچینو په لرلو سره د اروپایي ټولنې پام ځان ته را جلب کړی او بله دا چې د مرکزي آسیا ستراتیژیک موقعیت هم د اروپایي ټولنې لپاره اهمیت لري.

د تېلو او ګازو حیاتي اهمیت ددې لامل شوی، چې په نړیواله کچه د انرژۍ د زېرمو د کنټرول لپاره د لویو قدرتونو د پام وړ موضوع وګرځي، د ګازو او تېلو لویې زېرمې په خزر سیند او مرکزي آسیا کې موجودې دي او د مرکزي آسیا پر زېرمو روسیه انحصاري نفوذ لري. اروپایي ټولنه نږدې ۷۶سلنه تېل او ۵۰ سلنه ګاز له بهر څخه واردوي، اروپایي ټولنه خپل د اړتیا وړ ګازو لویه برخه له روسیې، ناروې او الجزایر څخه تأمینوي. (۱۰)

اروپایي ټولنه د مرکزي آسیا د ګازو او تېلو په برخه کې هڅه کوي چې اروپا ته د تېلو لېږد رالېږد د خزر سیند له لارې یې تګلوری بدل کړي او له روسیې څخه خلاص شي. د اروپایي ټولنې اصلي طرحه د قزاقستان کاشاګان د تېلو میدان د خزر سیند شمال ختیځې خواته پراختیا ورکول دي. همدارنګه د تاجکستان روغان بند جوړولو څخه چې بهرنۍ پانګونې ته اړتیا لري ملاتړ کړی دی.

د روسیې او اروپایي ټولنې ترمنځ د اوکراین موضوع پر سر د اختلافاتو رامنځته کېدو، د اروپایي ټولنې او مرکزي آسیا ترمنځ په ځانګړې توګه له ترکمنستان سره پر اقتصادي اړیکو اغېز درلودلی دی. له دې سره اروپایي ټولنې هڅه کوله چې له روسیې څخه پر وارداتي ګاز باندې خپله تکیه راکمه کړي او بالمقابل له آذربایجان

څخه اروپا ته د انرژۍ لېږد (جنوبي کوریډور) باندې جدي کار کولو ته یې لومړیتوب ورکړ. اروپايي ټولنه به له ترکمنستان څخه د طبیعي ګازو د لېږد پروژه هم په نظر کې لري، چې له دوه تګلورو ځمکني(د ایران شمالي سیمو د ګاز لېږد شبکه) او سیند (خزر سیند) څخه یو یې په نظر کې نیولی دی، چې د خزر سیند طرحه د سوداګرۍ، مالي او زیربنایي اړخه بریالۍ طرحه ده چې پر بنسټ به یې د ترکمنستان ګاز اروپا ته ولېږدول شي.

مرکزي آسیا د جیوپولټیک، موقیعت، بډایه طبیعي سرچینو، د سوداګرۍ تګلوري یو ځلورلارې په توګه د لویدیځ هېوادونو پام ځان ته اړولی دی. د مرکزي آسیا او خزر سیند انرژۍ سرچینو ته مستقیم لاسرسی د اروپايي ټولنې مهمه موخه ده. اوسمهال د هالند Shell شرکت، د فرانسې Schlumberger او Total Fina Elf شرکتونه، د ایټالیا ENI и Agip شرکت، د بریټانیا British Petroleum شرکت، د اسپانیا REPSOL شرکت، دالمان Wintershall شرکت، د رومانیا Petrom او ناروي Statoil شرکتونه په مرکزي آسیا کې د تېلو او ګازو په رایستلو کې ګډون لري. (۱۱)

له مرکزي آسیا څخه اروپا ته د انرژۍ لېږد ستونزمن دی ځکه چې روسیه د مرکزي آسیا تېلو او ګازو باندې کنټرول لري او ددې هېواد د ګاز پروم شرکت له خوا اروپا ته لېږدول کېږي له همدې امله اروپايي ټولنه د جنوبي کوریډور جوړولو ملاتړ کوي، چې د ترانس کسپین نلليکې طرحه یې ښه بدیل دی، چې ترکمنستان او آذربایجان سره نښلوي.

اروپايي ټولنه له مرکزي آسیا سره ښې اقتصادي اړیکې لري او په ۲۰۱٦ز.کال کې اروپايي ټولنې له مرکزي آسیا سره ۱۳،۷ میلیارده یورو واردات او ۸،۴ میلیارده یورو صادرات درلودل. اروپايي ټولنه د مرکزي آسیا هېوادونو له مهمو سوداګریزو

شریکانو څخه ګڼل کیږي. (۱۲) د یادونې وړ ده، چې اروپایي ټولنه د اقتصاد او سوداګرۍ په برخه کې د نړۍ ستر لوبغاړی دی، چې له ۹۰۰۰ میلیارده زیات ناخالص داخلي تولیدات او نږدې ۲۹ سلنه د نړۍ سوداګري په واک کې لري، په داسې حال کې چې امریکا او جاپان په ترتیب سره ۲۱ سلنه او ۱۱ سلنه په واک کې لري، اروپایي ټولنې نږدې ۸۰۰ میلیارده یورو بهرنۍ پانګونه کړې ده. (۱۳)

د مرکزي آسیا په هېوادونو کې رقابتي چاپیریال له هغو بنسټونو او سازمانونو سره تړلی دی، چې حاکم سیاسي واکمن سره تړاو لري، په موجودو نړیوالو بنسټونو فورم کې د قزاقستان او قرغزستان له سیاستونو ښکاري چې له نړیوالو بازارونو پولي مالي سیستم سره یوځای شي، خو تاجکستان او ازبکستان تر اوسه پورې په منځني حالت کې قرار لري او ډیر کم فرصتونه د پانګونې په برخه کې خپلو وګړو او بهرنیانو ته ورکوي.

قزاقستان او ترکمنستان چې د تېلو او ګازو لویې زېرمې لري په تېرو کلونو کې له ښه مالي حالت څخه برخمن وو، د روسیې او آذربایجان له لارې یې د خپلو خامو تېلو او طبیعي ګازو صادرات ترسره کول، خو قرغزستان او تاجکستان چې د تېلو او ګازو زېرمې نه لري له کمزوري اقتصادي حالت سره مخامخ وو. اروپایي ټولنه، چین او روسیه له مرکزي آسیا د اصلي تجارتي شریکانو څخه ګڼل کېږي.

اروپایی ټولنه د یو نړیوال سیاسي او اقتصادي بنسټ په توګه د مرکزي آسیا هېوادونو دوهم لوی سوداګریز شریک ګڼل کیږي. د ۱۹۹۰لسیزې له پیل سره قزاقستان لومړنی هېواد و، چې له اروپایي ټولنې سره یې همکاري درلوده او په مرکزي آسیا کې د اروپایي ټولنې اصلي متحد ګڼل کېده. اوسمهال قزاقستان ۴۰،۳ سلنه سوداګري له اروپایي ټولنې سره لري او له قزاقستان وروسته ازبکستان او ترکمنستان دوهم ځای کې قرار لري. د اروپایي ټولنې او مرکزي آسیا ترمنځ د

سوداګرۍ ډېره برخه انرژي تشکیلوي، چې له قزاقستان څخه نږدې ۸۰ سلنه د اروپايي ټولنې واردات نفتي محصولات جوړوي، همدارنګه په مرکزي آسیا کې د ګران بیه معدني توکو رایستلو، فلزاتو او فولادو ذوب او د برېښنا په برخه کې د پانګونې پروژو کې اروپايي ټولنې ډېره ونډه درلودلې ده. (۱۴)

د اروپايي ټولنې سفیر سوین آلوات کارلسان او د انګلستان، کاناډا، امریکا متحده ایالاتو ډیپلماتیک استازیو د ۱۳۹۸هـ . ل کال د ثور میاشتې پر ۴ نېټه د قزاقستان له لومړي وزیر سره وکتل او د قزاقستان د پانګونې ښه والي له سیاست څخه یې ملاتړ وکړ. همدارنګه د قزاقستان لومړي وزیر په دې کتنه کې د اقتصادي پراختیا مثبت رشد او پانګونې ته په اشارې سره وویل، چې ۲۰۱۸ز.کال په بهیر کې د بهرنۍ مستقیمې پانګونې له امله د قزاقستان اقتصاد ۱۵،۸ سلنه پرمختګ کړی وو. (۱۵)

د اروپايي ټولنې له خوا مرکزي آسیا ته له ۲۰۰۷ز.کال څخه تر ۲۰۱۳ز.کال پورې ۷۵۰ میلیونه یورو ځانګړې کړې او له ۲۰۱۴ز.کال څخه تر ۲۰۲۰ز.کال پورې هر کال نږدې یو میلیون یورو مرسته ورسره کوي. په نوي پروګرام کې اروپايي ټولنه په لاندې پروژو باندې تمرکز کوي: (۱٦)

- په قرغزستان کې د قانون حاکمیت، زده کړې او د کلیو پراختیا؛
- په ازبکستان کې د کلیوالو سیمو پراختیا؛
- په ترکمنستان کې د زده کړې بهیر ښه والی.

د اروپايي ټولنې د بهرني سیاست مسؤله فدریکا موګریني په مرکزي آسیا کې د اروپايي ټولنې دایمي نمایندګي پرانېستلو په موخه په ۲۰۱۹ز.کال کې قرغزستان

ته سفر درلود او د سفر پر مهال یې وویل چې که مرکزي آسیا هېوادونه  بشري حقونه رعایت کړي او په دې برخه کې ښه اصلاحات رامنځته کړي، اروپايي ټولنه به په مرکزي آسیا کې په لویه کچه پانگونه وکړي. د اتباعو بشري حقونو ته پاملرنه، اصلاحاتو او دموکراتیکو بدلونونو په راتلو سره په مرکزي آسیا کې د پانگونې فرصتونه زیاتېدلی شي. (۱۷)

اروپايي ټولنې له ۲۰۱۲ز.کال راهیسې د مرکزي آسیا د ځوانانو لپاره د تعلیمي او روزنیزو پروگرامونو جوړول پیل کړل چې د Erasmus Mundus پروگرام په چوکاټ کې ۱۹۳میلیونه یورو د ۹۵۰۰ محصلینو لپاره د بورسیو ورکولو لپاره ځانگړې کړې دي. (۱۸) اروپایی ټولنه په مرکزي آسیا کې د دریو برنامو، چې د قانون حاکمیت برنامه د فرانسې او آلمان له خوا،  اوبو ته د لاسرسي ستونزو حل او چاپیریال اړوند مسایلو برنامه د ایټالیا  او رومانیا له خوا او همدارنگه د زده کړو برنامه پلي کوي.

## پایله

د مرکزي آسیا هېوادونو ګټې د اروپایي ټولنې له غوښتنو سره تطابق نلري، اروپایي ټولنه د بشري حقونو د ملاتړ او دیموکراتیکو ارزښتونو پیاړوي کولو لپاره هڅه کوي. د مرکزي آسیا هېوادونه د پانګونې او د لوړې ټکنالوجۍ په مرسته اقتصادي وده او تولیداتو پراختیا ته اړتیا لري. د اروپا او مرکزي آسیا ترمنځ د جغرافیایي واټن شتون له امله نشي کولای په مرکزي آسیا کې د روسیې او چین سره سیالي وکړي، همدارنګه په مرکزي آسیا کې د اروپایي ټولنې د موخو په اړه هم ابهام شته، په داسې حال کې، چې چین، روسیه او امریکا په ښکاره توګه د انرژۍ او امنیت په برخه کې ګټې لري، خو اروپایي ټولنه امنیتي، انرژۍ او دموکراتیکو ارزښتونو په برخه کې خپلې ګټې لري.

د مرکزي آسیا په هېوادونو کې د اروپایي ټولنې په اړه بېلابېل لیدلوري موجود دي، په قزاقستان کې یې په اړه لیدلوری مثبت دی او قرغزستان هم له اروپایي ټولنې سره اړیکې مهمې او اغېزمنې بولي، خو ځینې نور هېوادونه د اروپایي ټولنې توانایي او ظرفیت د چین، روسیې او امریکا متحده ایالاتو په پرتله کم بولي او اروپایي ټولنې سره د اړیکو په برخه کې لیوالتیا نه لري. اروپایي ټولنه هڅه کوي د شوروي اتحاد لهع ړنګېدو وروسته په مرکزي آسیا کې د روسیې نفوذ را کم کړي او اوس مهال د چین د یو کمربند او لارې پروژې جیوپولټیکو اغېزو څخه اندېښنه لري. چین ددې پروژې د اجراء لپاره انساني ځواک ته اړتیا لري او مرکزي آسیا هېوادونو ته پورونه هم ورکوي.

## وړاندیزونه

د مرکزي آسیا جیوپولوټیک موقیعت او د طبیعي زېرمو په لرلو سره د سیمې او نړۍ د هېوادونو پام ځان ته را اړولی دی. اروپایي ټولنه او امریکا غواړي، چې په مرکزي آسیا کې د روسیې او چین رول کم کړي او د مرکزي آسیا له طبیعي ګازو او تېلو څخه ګټه واخلي، همدارنګه روسیه غواړي پر مرکزي آسیا هېوادونو خپل نفوذ وساتي او چین هم د یو کمربند او لارې پروژې له لارې د مرکزي آسیا هېوادونو ته پورونه ورکوي او تر خپل اغېز لاندې یې راولي. د افغانستان حکومت باید هڅه وکړي، د مرکزي آسیا له هېوادونو سره ښې اقتصادي محوره اړیکې ولري او له اقتصادي ظرفیتونو یې ګټه واخلي او هڅه وکړي چې له مرکزي آسیا سره د افغانستان اړیکې د امریکا متحده ایالاتو او ځینو نورو هېوادونو تر اغېز لاندې رانشي.

## مأخذونه


١. سازمند، بهاره. سیاست خارجی قدرتهای بزرگ، درېیم چاپ، انتشارات موسسه فرهنگی مطالعات و تحقیقات بین المللی ابرار معاصر: تهران، ١٣٩٠هـ.ل، مخ ٧٥

2. Dzhuraev, Emilbek, Muratalieva, Nargiza, ( 2020)، The EU Strategy On Central Asia, Friedrich Ebert Stiftung, page1.

٣. پیله رودت، علیرضا ثمودی. «قدرت هنجاری اتحادیه اروپا در آسیايي مرکزی؛ ابزار ها و چالش ها» فصلنامه آسیایی مرکزی و قفقاز، شمار ٩٧، بهار ١٣٩٦هـ.ل، مخ ٣.

٤. النا الکسین کوا. «اتحادیه اروپا به دنبال ایجاد استراتیژی خود درمنطقه اوراسیا» ژباړن: شهربانو جمعه پور، آی آر ډيپلوماسي سايټ، ٢٥ اسد ١٣٩٦هـ.ش،لاسرسی:http://irdiplomacy.ir/fa/news/1970963، [مراجعه:١٣٩٨/١٢/٢٣هـ.ل]

٥. ولي کوزه گر کالجی. «سند جدید اتحادیه اروپا برای آسیای مرکزی؛ ملاحظات و چالش ها پیش رو» سرطان ١٣٩٦ هـ.ل، لاسرسی؛: http://www.iras.ir/fa/doc/note/3218 ، [مراجعه:١٣٩٨/١٢/١٢].

٦. مخکینی مأخذ.

٧. رودت، پیله، مخکینی مأخذ، مخ ١٢.

٨. ولي کوزه گر کالجی، مخکینی مأخذ، مخ ٥.

٩. «راهبرد جدید اتحایده اروپا برای توسعه روابط با آسیای میانه» ایرنا ويبپاڼه، ٥ سرطان ١٣٩٨ هـ.ل، لاسرسی: https://www.irna.ir/news/83370905،[مراجعه: ١٣٩٨/١٢/١٦هـ.ل].

١٠. علیرضا سلطانی، رضا بهمنش. «اتحادیه اروپا و چالش های امنیتی انرژی» ١٣٩٠هـ. ل، لاسرسی: http://prb.iauctb.ac.ir/article_524393.html [مراجعه:١٣٩٨/١٢/١٩هـ.ل].

١١. «مروری بر سیاست اتحایه اروپا در آسیای مرکزی» شرق ایران ويبپاڼه،١٤ حمل ١٣٩٧هـ.ل، لاسرسی:

http://easterniran.com/fa/doc/translate/1303/ ،
[مراجعه: ۱۳۹۸/۱۲/۱۵هـ.ل].
۱۲. رودت، پیله، مخکینی مأخذ، مخ۲۰.
۱۳. سازمند، بهاره، مخکینی مأخذ، مخ ۷٦.
۱۴. «آیند پژوهی در کشورهای آسیایی مرکزی در تعامل با قدرت های بزرگ جهانی» ایکانومیک ویبپاڼه، ۳ سرطان ۱۳۹۸هـ.ل، لاسرسی:
https://economic.mfa.ir/portal/newsview/41920،[مراجعه:
۱۳۹۸/۱۲/۲۴هـ.ل].
۱۵. «استقبال اروپا و غرب از بهبود فضای سرمایه گذاری در قزاقستان» فارس نیوز ویبپاڼه، ۱۳۹۸هـ.ل ثور ۵ ، لاسرسی:
https://www.farsnews.com/news/13980204000784/،[مراجعه:
۱۳۹۸/۱۲/۲۲هـ.ل].
۱٦. النا الکسین کوا، مخکینی مأخذ، مخ ۴.
۱۷. «آسیای مرکزی، اتحادی اروپا و استراتژی های نفوذ» آی آر نیوز ویبپاڼه، لاسرسی:
http://www.ca-irnews.com/fa-ir/picture-of-the-day-fa/27459، [مراجعه:
۱۳۹۸/۱۲/۲۵هـ.ل].
۱۸. رودت، پیله، مخکینی مأخذ، مخ ۱٦.